ژباړن: انبیا ژمن ۲۰۱۰/۰۳/۱۹م

# په موخه تمرکز

د غوره پایلې د تر لاسه کولو لپاره په موخه تمرکز داسې کار دی چې په هر ځای او د ژوند په هره شېبه کې باید په ښه توګه ورڅخه استفاده وکولای شو. په واقعیت کې ستاسو د کار او ژوند د څرنګوالي د لوړولو لپاره څلور لارې شتون لري.

۱. کولای شئ ځیني کارونه ډېر ترسره کړئ، هغه کارونه چې ستاسو لپاره ډېر ارزښت لري او ستاسو له خوښي سره سمي او ځلېدونکي پایلې رامنځ ته کوي.

۲. کولا شئ ځیني کارونه کم ترسره کړئ او په قصد سره د ځینو کړنو او فعالیتونو د کمولو لپاره لاس په کار شئ، هغه برخې چې په ډېره کچه ګټوري نه دي.

۳. کولای شئ داسې کارونه پیل کړئ چې تر اوسه پورې مو نه دي ترسره کړي، لکه نوي فعالیتونه، د نوو مهارتونو زده کړه، د نوو پروژو او کړنو پیلول او په مسلکي او شخصي ژوند کې تولیزې کتنې ته بدلون ورکول.

٤. کولاس شئ ځیني کارونه په بشپړه توګه ودروئ، شاته ودرېږئ او خپل ژوند په نوي لید سره تر څېړنې لاندې راولئ. وروسته د هغو فعالیتونو او تګلورو د درولو پرېکړه وکړئ چې نور مو د نظر وړ له موخو سره په ژوند کې کومه اړیکه نه لري.

## له خپل ټول ځواک څخه استفاده وکړئ

هر لوی انسان او بریالي وګړي په یوه ځانګړي تګلوري سره له خپلو وړتیاوو څخه په استفادې لویی او بریالیتوب ته لاسرسی پیدا کړی دی. ((أریسون سو اېټ مارډېن))

## خپل عاید او خالي وخت دوه برابره کړئ

ایا غواړئ چې عاید مو دوه برابره شي؟ روښانه ده چې ځواب مو مثبت دی. یوازې دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې څنګه؟ دلته یوه ساده لاره چې کولای شو اغېزه یې تضمین کړو څرګنده شوې ده.

لومړی هغه فعالیتونه چې تاسو او ستاسو سازمان ته تر ټولو ډېر ارزښت لري وپېژنئ. د ۸۰/۲۰ قانون داسې دی: ستاسو ۲۰ په سلو کې ټولې کړنې ستاسو د ټولو کړنو ۸۰ په سلو کې ارزښت له ځان سره لري. دا شل سلنه تر ټولې مهمې دندې کومې دي؟

## تاسو مسؤل یاستئ

د بشپړ مسؤلیت منل د هغه څه په لټه کې چې یاستئ ستاسو د تر ټولو مهمو ټاکنو یوه برخه ګڼل کېږي. د شخصي مسؤلیت منل په ژوند کې د مهربانۍ ستر ټکی دی او همدارنګه داسې څیز دی چې غوره انسان ته له معمولي انسان څخه توپیر ورکوي. د خپلو اعمالو د مسؤلیت منل د یوه رهبر تر ټولو ستر صفت او د هر انسان لپاره په هر حالت کې د لوړ عملکرد سرچینه ده.

## فرض کړئ خپلواك شغل یا دنده لرئ

کله چې د خپل ژوند بشپړ مسؤلیت ومنئ، ځان به د خپل ځان رئیس ووینئ. له پام څخه مو وغورځوئ چې څوک مو عملکرد مني. تاسو خپل ځان د خپلو وګړیزو خدمتونو د وړاندې کولو د مؤسسې عامل مدیر وینئ.

ځان د داسې شرکت مؤسس وینئ چې یوازې یو کار کوونکی لرئ یعني تاسې خپله. ځان یوازې د یوې دندې د ترسره کولو مسؤول وینئ.

## په شدید سیالیز مارکېټ کې نورو ته د خدمتونو وړاندې کول.

په درېو طریقو سره کولای شئ خپله ګټه ډېره کړئ:

۱. په ثابتو لګښتونو سره د پلور او عاید ډېرول.

۲. د پلور او عاید په ثابت ساتلو سره د لګښتونو کمول.

۳. شرکت کولای شي بل کار ترسره کړي او هغه د پلور ډېرول او په ورته وخت کې د لګښت کمول دي. تاسو ستاسو د خپل شرکت د عامل مدیر په سرلیک کې دا درې ټاکنې لرئ.

په هر څه چې تمرکز وکړئ په هماغه غولې کې وده کوئ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د ژوند بنسټ پاملرنه ده. ستاسو پاملرنه چې هرې خوا ته وي ستاسو زړه هم په هماغه لوري ځي. له کم ارزښته فعالیتونو څخه ارزښتاناکه فعالیتونو ته د پام اړول په ژوند کې د هر کار د ترسره کولو لپاره بنسټیز ګام دی، چې په دې سره ستاسې پرمختګ په خپله رامنځ ته کیږي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ